# د "ويښ زلمي" ملي مترقي نهضت

# وياړلی غړی



## محمداعظم ايازي

**۱۲۵۷ - ۱۳۳۵ ه ش.**



pashtoon.net / pashtun.info September 2017

اروانښاد ښاغلی محمداعظم ایازي د میرزا محمداسلم خان زوی، په قوم جدراڼ په (۱۲۵۷) ه ش کال د قندهار په ښار کښي زیږیدلئ او په (۱۳۳۵) ه ش کال په کابل کي وفات شوئ دئ. ددوی کورنی د غازي سردار محمدایوب خان سره له وطنه جلا شوې وه، ځکه نو ده مختلف نقاط لکه ایران، ترکیه، او هندوستان یې لیدلي وو او آخر ته د جنوبي پښتونستان په کویټه کښي یې ځای نیولئ او هلته یې د هغه ځای تر اعداد یې پوري تعلیم کړئ او د لسم جماعت فارغ التحصیل و. په اردو، انګریزي ښه پوهیده. په ۱۳۰۳ش کال بیرته خپل وطن افغانستان ته راغلئ او دلته په ښوونځیو کښي د ښوونکي په حیث مقرر شو او بیا چه په قندهار کي د "پښتو انجمن" تاسیس شو، نو د انجمن په غړیتوب وټاکل شو. وروسته له قندهاره کابل ته راغئ او د پښتو ټولني د لوی مدیریت مرستیال او د لغاتو او قواعدو د څانګو مسؤل مدیر شو. د پښتو په صرف او نحو کي یې ښه زیار ایستلئ او ښه لاس یې پکښي درلود. ښاغلي ایازي شعر نه وایه، خو په نثر کښي ښه پوخ لیکونکی ؤ. ایازي صاحب ډیر صاف، ساده، حلیم، بردبار او هرچا ته تسلیم سړی و که هر څونه ډیر تاوان به چا ور ورساوه، خو دی یې مقابلې ته تیار نه و او د چا سره یې شخړه خوښه نه وه.

زړه یې ډیر نرم او له رحمه ډک و، په ډیرو مجلسو کي به چه چا د وطن د میني وینا کوله او یا به یې شعر وایه دده اوښکي به بهیدلې او هیڅ یې په واک نه وه چه زړه ټینګ کړي. وایي چي په امانیه عصر کي هغه وخت چه امان الله خان قندهار ته تللئ و او د قندهار د خرقې په زیارت کي یې نطق کاوه، نو ایازي صاحب په ډیره جدي لهجه نارې کړې: "اې د غوایي قامه ولي نه ژاړئ؟"

دده مقالې او ترجمې په "پښتو" مجله او د "کابل" په مجله او د "انیس" په ورځپاڼه کي ډیري نشر شوي دي. ده د پښتو دپاره د قدر وړ خدمتونه کړي دي، په تیره بیا د صرف او نحوي له پلوه چه یو کتاب یې هم د (پښتو قواعدو) په نامه لیکلئ او نشر شوئ دئ.

دده د نثر نمونه:

## خدایي غاټوی

یو ستړی ستومان سړی د خپل سفر په دوران کښي د یوه ځنګله څخه راووت اویو نظرغولوونکی شنیلی ته را ورسېد. د ماښام وخت دئ لمر لوېدلئ دئ، د قدرت جذبات په شور کښي دي، داسي یو عالم دئ چه هر چیری نظر رسېږي، پر هر شي چه نظر لوېږي په زړه کښي دا خیال پیدا کېږي چه بس همدغه ځای دئ، لیکن ددې غمجن پردېس مخ و هیڅ ته نه ګرځي، د خپل معمولي جنون په خیال کښي ډوب دئ، قدم د مخه ایږدي او ځي، چه نابېره یې د یوه شینلي په ښکلي مرغه کښي یوه زړه غولوونکې سرخي ولیدله. دا سرخي په اصل کښي یو سور غاټوی ګل و، چه زړه کشوونکی ښایست یې د ماښام په تیاره کښي داسي ښه ښکاره کېدئ چه ددې یوازیني مسافر زړه یې و خپل ځانته راکش کړ او پر مخ تللای نه شو، په ډېر غور یې ورته کتل او هیښ پیښ ورته ودرید. په آخر کښي کښېنوست چه د فطرت دا وړوکې کتابچه د عبرت په سترګو وګوري او بیا نو وراندي ولاړ سي. دا ګل نه ؤ بلکه هره یوه پاڼه یې د زړه وړونکي ښایست یو حقیقي تصویر و، یا د فطرت د ښایست د ګلاب یوه پاڼه وه. که څوک ددې مسافر د زړه د خیالاتو اندازه وکړي نو خدای ته معلومه ده چه څه - څه شیان به دده په یاد راتله او د کومي معشوقې خیال دا صحراګښت او جهان لیدونکي مسافر و کومي خوا ته کشاوه. په خدایي ګل کښي څه اثر و چه نابېره یې دی ودراوه؟ خدای ته معلومه ده چه په دنیا کښي به یې څه څه باغونه او د پسرلي څخه غوړېدلي ګلان لیدلي وي، لیکن یوه هم دده پر زړه باندي داسي اغېزه نه وه کړې لکه چه دې خدایي غاټوی وکړه. اصله خبره خو داده چه د یوه شي روزنه د قدرت په لاس شوې وي او په هر شي کښي چه د قدرت د مشاطې لاس وهلئ شوئ وي تر حد زیات ډېر وي چه فقط په کتنه یې د انسان زړه یو په یوه د لاسه وزي. دنیا ددې خبري آزموینښت ډېر کړیدئ چه انساني تکلفات که څه هم د خپلو کاریګرو له خوا په ښه ډول ښکاره شوي وي بیا هم د قدرت د یو ادني صنعت سره هیڅکله برابري کولای نه شي. دا هغه مقام دئ چه د خالقیت او مخلوقیت نازکه او منلې شوې مسئله ثابتوي. ددې خدایي دښتو او شنو سبزو ته د غور په کتنه وګورئ چه ددوی په فطري رنګ او رنګیني لمني د هیڅ انسان لاس وهلئ شوی نه دئ. که څه هم خونداخستونکی هلته نسته لیکن بیا هم څنګه ښه ښکارېږي، روڼې چینې په څه شان هري خوا ته د خپل فطرت په میل په کښي بهېږي، په ګډه الوتونکي مرغان په څه آزادی او خوشالی هري خوا ته په کښي الوزي او هر چیرته چه یې زړه وغواړي کښېني او چونېږي. ګلان چه د قدرت د ښوال په لاس په کښي اینبودل شوئ دئ پر شنو مځکو په څه شان چه د انسان عقل ورته حیرانېږي غوړېږي او شنې کېږي. دا منظره د مځکي په هغو حصو کښي چه انسان د زیار په لاس جوړي شوي او ښایسته شوي دي چا تراوسه لیدلې نه ده، هغه بې تکلیفي چه هلته ده دلته یې زرمد هم نه شته، هر شی په خپل ځای کښي آزاد دئ، مرغان هر چیري چه وغواړي په آزادی سره الوزي او کښېني، هیڅوک کار نه په لري. ولي هري خوا ته چه یې زړه وغواړي شنې کېږي. ګلان په خپلي آزادی سره هر چیري چه وغواړي شنه او غوړېږي او وخت چه یې راسي په خپله رژېږي او پیږي کېږي او نور یې پر ځای شنه کېږي. لیکن ددوی پیږیتوب د



pashtoon.net / pashtun.info September 2017

شینلی پر منظرې باندي هيڅ اثر نه اچوي، دوی داسي خوشحال او بې غمه وي چه د هيڅ پيزيتوب څخه نه غمجن کېږي، د هر شي غمجن توب او خوشالي يوازي د خپل ځان دپاره وي. آه ! دا لطف، دا بې غمي او آزادي په هغو ځايو کنبي چيري شته چه د انسان په لاس جوړ شوي دي..!؟

های ! هلته خو خدايي غاټوی نه شته چه زړه کشوونکی وي. د بڼ هر گل خو په ډېره تمنا سره د درو يا څلورو ورځو دپاره غوړېږي، که څه هم د علم نباتات په زرو اصول ايجاد سي ليکن حقيقت خو دادئ که يې د خدايي دښتو سره مقابله وشي، نو دا ټول باغ به د خدايي دښتو د يوه غاټوی سره برابري ونه کړي.

د ښاغلي ايازي صاحب تاليفات او تراجم:

۱. قواعد پښتو - په کابل کي طبع شوئ دئ.

۲. اصول مقاله نويسي - تاليف او نه دئ چاپ شوئ.

۳. الفاروق - له اردو څخه ترجمه شوئ دئ، نه دئ چاپ شوئ.

۴. رياضي او جغرافيا - د لمړي څخه بيا تر څلورم ابتدايي جماعته پوري چاپ شوي.

۵. الانسان - له اردو څخه ترجمه، نه دئ چاپ شوئ.

۶. لس زره لغتونه - چه په کابل کي طبع شوئ دئ.

۷. د پښتو گرامر - چاپ شويدئ.

د اداري نوټ:

د (اوټوبيوگرافی ويښ زلمی) په شپږم مخ کي د ويښ زلميانو بنسټ ايښوونکي اروانباد محمدرسول پښتون د ويښ زلميانو د مترقي نهضت سره د اروانباد ايازي صاحب د يوځای کېدو په هکله داسي ليکلي دي:

"...اما چون همين وقت بعضی معلمين هندی درکندهار پيداشده و وضيعت متعلمين و معلمين معارف فی الجمله خوب شده بود.. درصد آن بر آمدم که برای تاسيس يک مفکورۀ اجتماعی برخی مواد لازمه را بنام مرامنامه و اساسنامه بروی کاغذ در آوريم و مشمولين اين مفکوره بنام يک حزب ياد شوند. فلهذا يکی دو نفر معلمين مکتب که تحصيل يافته هند بوده و برای استفاده از معلومات علمی آنها باوشان ضرورت احساس مينودم و همچنين برای برخی از جوانان ديگر که در همانوقت نسبتاً فهميده و منور بنظر می آمدند دعوت دادم که همدرين نظريه بامن اتفاق نمايند، بدبختانه که از جملۀ اشخاص مذکور تنها يکنفر (ميرزامحمد اعظم خان ايازی معلم که در همانوقت تازه با عائلۀ شان از کوئته آمده بود) حاضر شده و برخی جوانان ديگر که لازم نيست نام شان ها ياد نمايم به کلی ابا ورزيدند..."



pashtoon.net / pashtun.info September 2017

## A Proud Member of the National Progressive Movement "Weesh Zalmiyan" (Awakened Youth)



# Mohammad Azam Ayazi

**1878 - 1956**

The late Mohammad Azam Ayazi son of Mohammad Aslam Mirza Khan, of the Jadran tribe, was born in 1878 in the city of Kandahar and died in Kabul in 1956. His family had abdicated from the country with Ghazi Sardar Mohammad Ayub Khan and because of this, he travelled to Iran, Turkey, and India and in the end settled in southern Pashtunistan in Quetta. He graduated from high school in this city. He was well-versed in Urdu and English. He returned to his country in 1924 and was appointed a teacher. He became a member of the Pashto Association when it was established in Kandahar. Later he moved to Kabul and became the deputy chief of the Pashto Academy and worked as director of the Pashto Words and Grammar branch and conducted research on Pashto grammar.

He was not a poet but was a skilled writer of prose. He was a very poised, kind, simple and outgoing person and was not inclined to argue with people. His heart was full of kindness toward his country and he became emotional when someone would start talking about national issues. It is said when King Amanuallah (1919 to 1929) visited Kandahar and was giving a speech in the Kherqa mosque, Ayazi raised his voice and asked the people why were they not weeping at the heartfelt words of the nationalist monarch.

His articles have appeared in Pashto and Kabul magazines and Anis daily. He has done a great service for the Pashto language, especially Pashto Grammar. He has published a book entitled Grammatical Rules of Pashto Language.

Mr. Ayazi’s writings and translations:

1. Grammatical Rules of Pashto, published in Kabul.
2. Rules of Writing an Article. Unpublished.
3. Al-Faruq. Translated from Urdu. Unpublished.
4. Mathematics and Geography. From grade one to fourth.
5. Al-Ensaan. Translated from Urdu. Unpublished.
6. Ten Thousand Words, published in Kabul.
7. Pashto Grammar. Published.

Note:
In the sixth page of autobiography of Enlightened Youth Party, the late Mohammad Rasul Pashtun, founder of the Movement, notes Mr. Ayazi’s joining and role with the movement as such:
“During this time a certain number of Indian teachers appeared in Kandahar and the level of education improved in Kandahar… in order to formulate a social movement we engaged in the writing of the statute and charter of the movement and to organize the participants of the idea into a political party. There was a need for teachers who had been trained in India so that their knowledge may be of use to us. I also invited a number of youth who at the time seemed to be knowledgeable and intellectuals to join me in my endeavor. Unfortunately, among the teachers in Kandahar only one person, Mohammad Azam Khan Ayazi, who had just returned with his family from Quetta, showed willingness to participate in the movement. A number of other students, whose names it is not necessary to mention here, completely refrained from joining…”

Natural Tulip, sample of a prose written by Ayazi

A tired wayfarer came out of a forest and as he was traveling, entered a deceptive grassland. It was evening, the sun had set and nature’s attractions were at work. It was a locale, which made one, thinks that it was a heavenly place. The woeful traveler, however, was not aware of his surroundings and was engrossed in simple thoughts. He continued to walk when suddenly he saw a deceptive red color among the leaves of grass. In fact, the red color was a brightly illuminated tulip. The flower’s color was so deceptively poignant in the dusky surroundings that it mesmerized the wayfarer to the extent that he could not continue with his journey. The man gazed at the flower in amazement and finally sat down to ponder and study this immense wonder of nature and then continue with his journey. Each petal of the flower was ablaze with beauty in this paradise of nature. One wonders what went through the mind of this itinerant and what the attraction was. What was there in this flower, which suddenly drew the attention of the wanderer? God only knows what kind of beautiful and eye-catching gardens and ornamental spring flowers the traveler had seen in life. However, not one had mesmerized him to the extent the wild tulip did. The issue at hand was what magical spell the flower was endowed with, reared by nature, which was so attractive that it was so poignantly heartfelt. Experiments have shown no matter how intricately humans may rear garden flowers they cannot match nature’s work. This is a strata, which shows the proved and delicate intricacy of Creator’s work. One intensive look at natural grasslands, plains and deserts reveal that they have not been nurtured by human hands at all. Even though these places are devoid of attractive ornamental flowers, yet they provide us solace and peace of mind. See how illuminating streams flow with the steady hand of nature, how the free roaming birds fly in all directions and land whatever spot suits them where they sing their melodic songs. How nature’s garden grows with fragrant flowers whose beauty baffles our mind. Human beautification of its gardens can, under no circumstances, match nature’s work of art. Every living organism is properly placed in its niche. Birds fly freely, flowers grow wherever environmental conditions are favorable, when the time comes, they wilt and are

replaced by others of the same kind in a perpetual cycle of life. However, their demise does not have any ill-effects on the environment where they grow. It seems as though they are happy with their lifestyle. Alas, such elation and freedom does not exist in places ravaged by man's work!

Yes, there are no tulips, which bring forth such deep delight to us. With great care and hardship, the flower of the human garden only lives for a few days. Even though we may be able to grow innumerable kinds of flowers but they cannot match the beauty of a single tulip growing naturally in the meadow.